زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، زه په لمانځه کې په تاسو ټولو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمانځه ته زيات ورته والى لرم، او همدا يې تر هغه پورې د لمانځه طريقه وه تر څو چې له دنيا څخه لاړ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې: هغه به په فرض او نورو لمونځونه کې تکبير ويلو، په روژه کې او له روژې پرته، نو کله به چې پاڅېده تکبير به يې وکړ، بيا يې چې کله رکوع کوله نو تکبير يې وکړ، بيا يې : سمع الله لمن حمده وويېل، بيا يې ربنا ولک الحمد وويل؛ مخکې لدې چې سجدې ته لاړ شي، بيا چې کله سجدې ته ټيټېده نو الله اکبر يې وويېل، بيا يې له سجدې څخه د راپورته کېدو پر مهال تکبير وکړ، بيا چې کله له دوو سجدو څخه راپورته کېده نو تکبير يې وکړ، او همداسې به يې په ټول رکعت کې کول، تر دې چې د لمانځه څخه فارغ شو، بيا يې چې کله مخ وګرځاوه نو ويې ويېل : زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په لاس کې دى، زه په لمانځه کې په تاسو ټولو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمانځه ته زيات ورته والى لرم، او همدا يې تر هغه پورې د لمانځه طريقه وه تر څو چې له دنيا څخه لاړ.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه د بيانولو په موخه يوه برخه را نقلوي او وايي چې کله به د لمانځه لپاره پاڅېده نو تحريمه تکبير به يې وکړ، بيا به چې کله رکوع ته تللو نو تکبير به يې وکړ او کله به چې سجدې ته تللو، او کله به يې چې له سجدې څخه سر راپورته کاوه، او کله به يې چې دويمه سجده کوله، او کله به يې چې تري سر راپورته کاوه، او کله به چې له دوو لومړيو رکعتونو څخه راپورته کېده وروسته لدې چې لومړي تشهد ته به په دري رکعتي او څلور رکعتي لمونځونو کې کېناسته، بيا به يې په ټول لمانځه کې همداسې کول تر دې چې لمونځ به يې بشپړ کړ، او کله به يې چې ملا له رکوع څخه پورته کوله نو : سمع الله لمن حمده به يې ويېل او بيا به يې په ولاړه ويېل : ربنا لک الحمد. بيا چې ابو هريره کله له لمانځه څخه سلام وګرځاوه نو ويېل به يې: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې ده، زه په تاسو ټولو کې په لمانځه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمانځه ته ورته والى لرم، چې همدا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه طريقه وه تر دې چې له دنيا څخه يې رحلت وکړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65098

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee